## د روسيې انقلابونه چېرته ورسېدل؟



(ژباړه)

د يوې پېړۍ په تېرېدو، کله چې د تزار حکومت غصب او وروسته يې روسان ځايناستي شول، په روسيه کې له همغې ورځې تر اوسه د تېرو ۱۰۰ کلونو په په پرتله هېڅ د پام وړ پرمختګ نه ليدل کېږي. د روسيې له تزار وروسته، دويم نيکلای و، چې دی او کورنۍ يې په ۱۹۱۷م کې د روسيې د انقلاب په لړ کې له څوکۍ او مقامه ولوېدل. وروسته د ۱۹۱۸م کال په جون کې د بلشويکيانو لخوا اعدام شول. په تېرو پېړيو کې به هر مشر مجبور و چې له يوې قهرجنې څېرې سره مخ شي، ځکه چې د روسيې هېواد ذاتاً بې ثباته و. هغه غبرګونونه چې اوس په ياد هېواد کې ورسره مخ دي، د هغې قضيې په څېر دي، چې د شوروي اتحاد جمهوريتونو او د روسيې امپراتورۍ د ماتې لامل شوې وه.

که نن روسيې ته وګورئ، لوی ملت دی چې له ۱۸۵ زياتو قومي ډلو، ۲۱ ملي جمهوريتونو او ۸۵ سيمه ييزو برخو، چې ۹ زماني سيمې (Time Zone) تشکيلوي؛ جوړ دی. روسي رهبرانو که د تزار، شوروي او يا هم وروسته له شوروي څخه شهزادګان وو ، هڅه وکړه چې ياد جيوپوليتيک اختلافونه تحکيم او حل کړي. د پراخې جغرافيې پر درلودلو سربېره، د روسيې ۷۵ سلنه عملاً د اوسېدو وړ نه ده؛ په داسې حال کې چې ډېری سيمې يې د دې پر ځای چې په اوړي کې په ځنګلونو بدلې شي، منجمدې وي.

بحري تجارت هم روسيې ته ستونزمن دی، ځکه چې اوسمهال يې يوازينی د ګرمو بندر رقيبانو تړلی دی. سربېره پر دې د روسيې مرکزي سيمه (heartland) له سن پترزبورګ څخه د مسکو پر لور د والګا سيمې ته لېږدول شوې، نږدې ورته يو لړ دښتې دي، چې له هرې زاويې ورته خطر پېښېوي. دې چارې روسيه اړ کړې چې خپلو پولو ته

پراختيا ورکړي او له مرزونو څخه لرې نفوذ وکړي، تر څو وکولی شي د خپل ځان او رقيبانو تر منځ يوه ساتونکې او ډال ډوله سيمه را منځ ته کړي. لکه څنګه چې په روسيه کې مشهور شخص کانترين (Catherine) وويل: «زه د خپلو مرزونو د دفاع لپاره د هغو له پراختيا پرته بله هيڅ لاره نه لرم.»

په ۱۹۱۷م کال د تزاريستانو د حکومت ناځاپي پای، چې د کمونيزم په دوران کې رامنځته شو، دا د ولادمير پوتين د راضي کولو لپاره وه پيچلې پديده. نومړی بريا ته احترام کوي، خو په لوی لاس انقلاب د سياسي ماتې له امله چې کرملين غواړي خپل خلک ترې منع کړي، کمزوروی او له بنسټه يې خرابوي. په حقيقت کې په تاريخ کې د مارچ ۱۲مه د انقلاب د ورځې د پيل په توګه پېژندل شوې، چې روسيې په دغه ورځ هيڅ ملي رخصتي ونه کړه او همدا راز يې په اړه کرملين هم هيڅ خپل اصلي دريځ او واقعي تعبير نه دی ښودلی.

د روسيې په اړه دا استدلال سم دی چې د هېواد د دا ډول تاريخي واقعاتو چې په تېرو وختونو کې د اختلافونو او داخلي وېش له امله رامنځ ته شوې وې، بې باکه ده. بيا هم، د باور وړ توضيح دا ده چې پوتين يې د هېواد په اوبو او هوا شرمېږي او د نظام د بدلون په اړه د خلکو له هر ډول احساس څخه په وېره کې دی، چې داسې نه چې خلک اعتراض وکړي او د ده د ماتې لامل شي. د روسيې د اتحاد او يو موټي کولو لپاره خورا ډېر کوښښونه وشول. تزاريانو له مطلقې سلطنت غوښتنې څخه د خلکو د راټولو لپاره د وسيلې په توګه کار اخيسته، خو کومه پايله يې نه لرله، چې وروسته په ۱۹۱۷م کې د ځپل کېدو لامل شو. بلشويکانو د ولادمير لينن او د اوکتوبر د انقلاب د موسس په رهبرۍ هم کوښښ وکړ، چې د روسيې خلک د کمونيزم د نظام تر چتر لاندې سره متحد کړي؛ خو هيڅ کومه ګټه يې نه درلوده، چې په ۱۹۹۱م کې د شوروي اتحاد د ماتې لامل شول.

پوتين هم د روسيې د تېرو ظالمو حکامو په څېر په دغه ډګر کې ماته خوړلې ده. په حقيقت کې پر تزار حکومت او د کمونيزم پر ماتې سربېره، روسانو لکه د تېرو او د تېرو وختونو په څېر ژوند کړی دی او د يوې بې ثباته ټولنې او سياسي نوسانونو تر منځ ژوند کوي. دا هغه پدېدې دي چې ولادمير پوتين  يې د حل لپاره لږ خدمت کړی دی. له ټولو څخه بد دا چې له انقلابي تاريخ څخه د خلکو د لرې کولو لپاره، د هېواد دننه له اقتصادي او سياسي ستونزو سره د مبارزې هر ډول هڅې له بنسټه ويجاړې شوې دي.

په اوسني عصر کې هم روسيه له اقتصادي رکود څخه ځورېږي. که څه هم اوسمهال برنت (Brent) نفتي کړکېچ د ۲۰۱۲م په فبرورۍ کې له ۱۲۵ ډالرو ګټې څخه ۲۷ ملياردو ډالرو ته په ۲۰۱٦م کې راښکته شوی دی، خو د روسيې پولي ارزښت هم د ډالرو په پرتله ۵۰ سلنه راښکته شوی، چې د کارګرانو د دست مزد او د تيلو د کارونکو د کمښت لامل شوي دي. مرکزي کمپنۍ او سکتورونه په ډېر سخت زيانمن شوي چې روسيه د تيلو د پرمختګ د راتيټوالي له امله د امريکا د مخکيني اقتصادي بحران په پرتله ډېره ځورېږي.

پر دې سربېره  په یاد هېواد کې فقر د ګراف په سر کې دی او بې عدالتي ورځ تر بلې زیاتېږي. بندیزونه پر تجارت غلبه کوي او له هېواده بهر د روسیې لاسوهنې پر ملي بودیجې اغېزه کړې ده. څوک چې د روسیې له تاریخ سره اشنا دي، په یاد یې دي چې د لوی اقتصاد ورته شرایطو د دواړو تزارو (دویم نیکلاس) پلان له ماتې سره مخ کړ، چې په پایله کې پوتین په یاده لوبه کې د بریا چانس نه لري. نو له دې امله داسې ښکاري چې په یاده برخه (د اقتصادي کړکېچونو د نوي بدلون په رڼا کې) د سیاسي قدرت پر لېږد سربېره، یاد هېواد د وخت په اوږدو کې بدلون کړی دی.

د پوتین په سیاسي رهبرۍ کې له واقعي قدرت پرته، په کلکه نهیلې کوونکې ده چې هغه به سل کلن انقلاب تر شا اېښی وي. نو جوته شوه چې ماته، په خپل نفس کې له حاکم سره تړاو نه لري، بلکې له هغو مفاهیمو سره چې خلک یو موټی کوي، تړاو لري. په حقیقت کې د اېډیولوژۍ نشت د روسیې د وېش لامل شوی، چې په پایله کې یې ماته حتمي ده. روسیې ته یوازینۍ حل لاره دا ده چې د هغې اېډیولوژۍ پیروي وکړي، چې د بشر له فطرت سره سمون لري او خلک به یې هم باورمن (متقاعد) کړي. نه هغه مفکوره او مفاهېم چې د بشر له ذهنه راوتي وي، بلکې هغه چې له اصلي سرچینې (خالق) څخه یې منشا اخیستې وي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: قیصر عبدالطیف**

**د ۱۴۳۸هـ.ق د شوال ۲۴مه**

**د ۲۰۱۷م د جولای ۱۸مه**